# په سویډن کښي د پښتو ژبي د زده کوونکو

# د پښتو ژبي د تدریس شپږم کتاب

# ٦

ترتیب کوونکئ: عبدالعلي رسول‌زاده په مالمو کي د پښتو ژبي ښوونکئ

# تر پیل د مخه خبري

د پښتو ژبي دغه شپږم کتاب په سویډن کي د مالمو د ښار د پښتو ژبي د ښوونکو د تدریسي پلان سره سم لیکل سوئ دئ.

ما کوښښ کاوه چي که و کولای سم د ۲۰۱۰ ـ ۲۰۱۱ تعلیمي کال په لومړۍ هفته کي دغه کتاب پوره کړم. دا چي وخت کم وو او ما و نه کولای سوای چي دا کتاب پوره و لیکم نو د دې د پاره چي ګران همکاران بیخي بې موادو پاته نه سي ځکه مي دغه کتاب نیمګړی اوس پاښي ته و رساوه. تر هغو به دغه لیکل سوي مواد تدریسوو. امید لرم چي هغه پاتي برخه به یې هم ډېر ژر پوره سي. کله چي ټول کتاب پوره سو بیا به یې په پاڼه کي کښېږدم.

مننه
عبدالعلي
۲۵/۸/۲۰۱۰

# ښــــه خــــوی

حضرت محمد (صلی الله علیه و اله و سلم) ویلي دي چې: "د قیامت په ورځ به تر ټولو دروند شی د میزان په تله کې ښه خوی وي".

د دې معنا داده: کله چې د قیامت ورځ راسي نو ټول انسانان بیا (بیرته) را ژوندي کیږي او د حساب و میدان ته حاضریږي. په هغه ځای کې به یوه تله (ترازو) وي چې د ټولو انسانانو د هغه کارو اندازه به په معلومیږي کوم چې په دنیا کې یې کړي وي. د لوړي وینا څخه دا معلومیږي چې په دغه ترازو کې به ښه خوی ډېر دروند وي.

حضرت محمد (ص) بل ځای داسي وایي چې: "د بشپړ ایمان خاوند (څښتن) هغه څوک دئ چې اخلاق یې تر ټولو ښه وي".

د حضرت محمد (ص) دغه لوړو ویناوو (خبرو) ته حدیثونه وایي، چې یوه خبره یې د حدیث په نامه یادیږي.

---

لغاتونه:

| | |
|---|---|
| تله | ترازو |
| وینا | خبري |
| بشپړ | پوره، کامل |
| اخلاق | خویونه |
| میزان | برابري، اندازه کول، تلل |

تمرین: لاندي لغاتونه شرحه کئ !

۱ـ حدیث ________________

۲ـ اخلاق ________________

۳ـ ښه خوی ________________

٤ـ د قیامت ورځ څه ته وایي ؟ ________________

________________

________________

٥ـ د حضرت محمد (ص) د خبرو څخه یوه خبره دلته و لیکئ !

________________

________________

لاندي پښتو جملې په سویډني ترجمه کړئ !

ـ موږ د احمد سره ځو. ________________

ـ دوی د ملالۍ کره ولاړې. ________________

ـ تاسي موټر نه درلود. ________________

# کـــوښښ

د ژوند معنا (معنی ) کوښښ کول دي ، بې کوښښه ژوند ګټه نه لري. هر څوک کار کوي ، انسانان کار کوي ، حیوانان کار کوي ، ماشینونه کار کوي.

مور او پلار مو ستاسي د ژوندانه د پر مختګ د پاره کار کوي او زیار باسي.

هر چیري چي کوښښ وي نو د ژوند ارامي او وداني هم هلته وي. هغوی چي زیار نه کاږي او کوښښ نه کوي په هر راز غمونو او بد بختیو اخته کیږي.

خپلو ټولګیو ته و ګورئ هر څوک چي زیات کوښښ کوي او خپل درسونه په غور سره لولي ، تل ډېر خوښ وي او ښوونکئ ور نه خوشاله وي.

که خپل شاوخوا و ګورئ دغه ټولي ودانۍ او تعمیرونه د کوښښ او زیار څخه منځ ته راغلي دي.

---

لغاتونه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| کوښښ | زیار | غور | دقت |
| چارو | کارو | لولي | وایي |
| بوخت | اخته ، لګیا | تل | همېشه ، هر وخت |
| وداني | جوړتیا | ودانۍ | تعمیرونه |
| زیات | ډېر | | |

تمرين: د لاندي جملو خالي ځايونه په مناسبو کلمو ډک کړئ !

| |
|---|
| ۱ ـ د ژوند معنا ـــــــــــــــــــ کول دي.<br>خوب<br>کوښښ<br>غلا |
| ۲ ـ هر چيري چي کوښښ وي نو د ژوند ارامي او ابادي هم ـــــــــــــــــ وي.<br>کور<br>پيسې<br>هلته |
| ۳ ـ هغوی چي ـــــــــــ نه کاږي په هر راز غمو اخته کيږي.<br>زيار<br>مېز<br>غم |
| ٤ ـ هر څوک چي خپل ـــــــــــــــــ په غور سره لولي ، تل ډېر خوښ وي.<br>ښوونکئ<br>درسونه<br>پلار |
| ۵ ـ څوک چي په درسو کي کوښښ کوي ـــــــــــــــــ ښوونکئ ځيني خوښ وي.<br>ګاونډيان<br>ښوونکئ<br>کتاب |

# کیســـه

یوې ګیدړې یو کاغذ پیدا کړئ وو ، نو راغله نورو ګیدړانو ته یې وویل چي: ”د هغه باغ کواله( قباله ) مي اخیستې ده ، راځئ چي هلته مېله و کړو او راز راز مېوې و خورو “.

نوري کیدړې هم په ډېره خوشالي باغ ته ور سره ولاړې او باغ ته ور ننوتلې. ګیدړه پر دېوال کښېناسته او نورو ګیدړو د مېوو په خوړلو پیل وکړ.

باغوان راغئ د باغ دروازه یې وتړله او د ګیدړو په وهلو یې شروع و کړه. نورو ګیدړو هغې بلې ګیدړې ته ور ناري کړه چي: ”کواله( قباله ) دي څه کړه“؟

هغې وویل:” کواله داده خو څوک یې نه مني “.

---

لغاتونه:

| | |
|---|---|
| راز راز | ډول ډول |
| پیل | شروع |

یادونه:

پورتنی لوست او دغه مشهور متل سر سره خوري چي وايي: دا یې کواله په چا یې منې.

تمرین: لاندي پوښتنو ته جواب و لیکئ !

۱ ـ ګیدړي ولي نوري ګیدړانې را وستلې چې په باغ کې مېوې و خوري ؟

۲ ـ ګیدړي چې کواله ( قباله ) درلوده نو دا ولي پر دېوال ناسته وه او کاغذ یې په لاس کې وو ؟

۳ ـ باغوان ولي مېوه خوړونکي ګیدړي و وهلې ؟

ځکه چې

٤ ـ کوم متل د دغې کیسې سره سر خوري ؟

# اسم(نوم) Substantiv

اسم هغه کلمه ده چي د يو شي، انسان، حيوان يا ځای نوم وي لکه : سړی، کتاب، ښوونځی، کور، موږک، ښار، کاغذ، افغانستان، خوب، ژړا ،خندا او نور.

په لاندي جملو کي تر اسم لاندي خط کش سوئ دئ و يې لولئ !

- سدو راځي.
- احمد د خپل ورور سره ځي.
- زده کوونکئ ولاړئ.
- د ملالۍ پلار ډوډۍ خوري.
- ګلان ډېر ښکلي دي.

اسم که يو وي مفرد بلل کيږي او که تر يوه ډېر وي جمع بلل کيږي. د يو څو اسمونو مفرد او جمعي لاندي و لولئ !

| جمع | مفرد |
| --- | --- |
| سپي ، سپيان | سپی |
| غواوي ، غواګاني | غوا |
| کتابونه | کتاب |
| ښځي | ښځه |

تمرین: په لاندي جملو کي اسمونه پیدا کئ او یو خط تر لاندي کش کئ.

یوه سلماني د یوه سړي سر په پخه چاړه ور خرایه او پر سر یې ویني را بهېدې. پدې وخت کي سلماني پوښتنه ځیني وکړه: "څو ورونه یاست"؟

سړي جواب ور کړ: "که ستا د چړې څخه ژوندی پاته سوم نو درې ورونه یو".

___ ___ ___ ___

___ ___ ___ ___

___ ___ ___ ___

په لاندي جملو کي لومړی اسمونه پیدا کئ او بیا یې مفرد او جمعي ولیکئ !

یوه غله د یوه سړي د کور دېوال سوری کړ او کور ته ننوت. د کور خاوند پر را ویښ سو. غل وبېرېدئ او ویې غوښتل چي دد ېوال تر سوري ووزي. د کور خاوند تر پښه ونیوئ. غله ناره کړه: "وروره ! دا پښه مي خوږیږي ، هغه بله پښه مي ونیسه" دکور خاوند د غله پښه ایله کړه، غل ځني وتښتېد.

| مفرد | جمع | مفرد | جمع |
| --- | --- | --- | --- |
| ___ | ___ | ___ | ___ |
| ___ | ___ | ___ | ___ |
| ___ | ___ | ___ | ___ |
| ___ | ___ | ___ | ___ |

# خوشحال خان

د پښتو ژبې د مشهور او تکړه لیکوالانو د جملې څخه یو هم خوشحال خان دئ. خوشحال خان د ملک شهباز زوی وو. دی په ۱۰۲۲ هجري کال کې زېږېدلئ دئ.



خوشحال د کوچنیوالي څخه زړه‌ور او هوښیار وو. کله به چې د پلار سره په مجلس کې ناست وو د مشرانو او خپل پلار خبرو ته به یې ښه غوږ نیوئ او په خبرو کې به یې ډېر فکر کاوه.

خوشحال خان درې ورونه درلوده. خو تر ټولو ورونو دی هوښیار او پوه وو.

د خوشحال پوهه او هوښیاري ورځ په ورځ زیاتېده په شل کلنې کې یې ډېر کتابونه ولوستل او د زیاتې پوهې خاوند سو او په شعر ویلو شروع وکړه.

خوشحال خان ډېر کتابونه لیکلي دي. ډېر شعرونه یې لیکلي دي. د پلار تر مرګ وروسته دی د کام مشر سو. خوشحال خان د ۷۸ کالو په عمر مړ سو خو نوم یې تل ژوندی دئ.

د خوشحال خان یو شعر به دلته و لولئ:

| | |
|---|---|
| چي ښايست لري په ستورو | داسمان ننداره ګوره |
| ددې خپل وجود په باغ کي | په هر شان ننداره ګوره |
| چي هر ګل وته نظر کړې | د باغوان ننداره ګوره |
| راشه وغړوه سترګي | د جهان ننداره ګوره |

---

لغاتونه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| ننداره | سیل | وجود | بدن |
| په هر شان | په هر ډول | نظر | کتل ، لیدنه |
| و غړوه سترګي | و ګوره | جهان | دنیا |

تمرین: لاندي پوښتنو ته جواب و لیکئ !

۱ ــ خوشحال خان د چا زوی وو او کله زیږېدلئ دئ ؟

---

---

۲ ــ د پلار تر مرګ وروسته ولي خوشحال خان د کام مشر سو ؟

---

---

۳ ــ خوشحال خان د څو کالو وو چي په شعر ویلو یې شروع و کړه ؟

---

---

# د مځکي لويي وچي

د مځکي مخ د درو برخو څخه دوې برخي اوبه او يوه برخه وچه مځکه ده. د مځکي د پيدايښت د وخت څخه تر اوسه پوري د مځکي وچي برخي کله پر يوه ځاى او کله پر بل ځاى ښکاره سوي دي.

پوهانو پخوا مځکه پر پنځو (٥ ) لويو وچو وېشلې وه لکه اسيا ، اروپا ، امريکا ، افريکا او استرليا. چي دغه هري لويي وچي ته يې (براعظم ) وايه. په هره لويه وچه کي يو زيات شمېر هيوادونه پراته وه.

اوس پوهان د نړۍ دغه لويي وچي اوه (٧ ) بولي. اسيا ، اروپا ، شمالي امريکا ، جنوبي امريکا ، افريکا ، اوسيان او جنوبي قطب (انتارکتيس ). دا د دې امله چي د يوې خوا پدې وروستيو وختو کي جنوبي قطب ( Antarktis ) ته د خلکو زياته پاملرنه پيدا سوې ده او د بله پلوه يو شمېر هيوادونه لکه نيوزيلينډ او ځيني نور تر هغه پخوانيو ٥ لويو وچو د باندي پاته وه.

نو د دې د پاره چي دغه هيوادونه هم په کومه لويه وچه پوري اړه پيدا کي نو يې دغه ويش را منځ ته کړ.

زموږ ګران هيواد د اسيا په لويه وچه کي پروت دئ.




| | |
|---|---|
| ١ | اسيا |
| ٢ | اروپا |
| ٣ | افريكا |
| ٤ | شمالي امريكا |
| ٥ | جنوبي امريكا |
| ٦ | اوسيان |
| ٧ | انتاركتيس |

تمرین: لاندي پوښتنو ته جوابونه و لیکئ !

۱ ـ د مځکي د مخ څومره برخه اوبو نیولې ده ؟

۲ ـ پخوانیو پوهانو د مځکي لويي وچي څو بللې او نومونه يې کوم وه ؟

۳ ـ اوس ولي پوهان د مځکي د مخ لويي وچي اوه ( ۷ ) بولي او نومونه يې کوم دي ؟

۴ ـ زموږ ګران هیواد افغانستان د نړۍ په کومه لویه وچه کي پروت دئ ؟

# ضمير pronomen

ضمير هغه كلمه ده چي د اسم يا نوم پر ځاى راځي لكه :

| | |
|---|---|
| زه | موږ |
| ته | تاسي |
| دى،دا ، دغه | دوى |
| زما | زموږ |
| ستا | ستاسي |
| دده ، ددې | ددوى |
| ددغه | ددغو |

په لاندي جملو كي د ضميرونو مثالونه وګورئ، تر هر ضمير لاندي خط كش سوئ دئ :

دې ( هغې ) لوست زده كړ .
زه ستوكهولم ته ولاړم .
ما دده سره خبري وكړې.
ته ولي نه وې راغلئ ؟

تمرين :

په لاندي جملو كي ضميرونه پيدا كئ او بيا يې د جوابو د پاڼي سره وګورئ :
ده ددوى سره خبري كولې چي ددې ورور راغئ.
ما ددې كتابونه وروړه.
تا ولي دوى ته خبر وركړ چي زما قلم ورك سو.

تمرین: لومړی و لیکئ چي ضمیر څه ته وایي. بیا داسي لس جملې و لیکئ چي ضمیرونه پکښي را غلي وي او تر هر ضمیر لاندي خط کش کئ !

ضمیر________________________________________

________________________________________

۱- ________________________________________

۲- ________________________________________

۳- ________________________________________

٤- ________________________________________

۵- ________________________________________

٦- ________________________________________

۷- ________________________________________

۸- ________________________________________

۹- ________________________________________

۱۰- ________________________________________

# ملګري ته لیک

ګرانه ملګریه / ملګري احمده / ملالۍ اسلام علیکم !

خدای دي و کړي چي جوړ او د ښه روغتیا درلودونکئ / درلودونکې اوسې. څو ورځي مخکي ستا یو لیک را و رسېدئ. په لوستلو یې ډېر / ډېره خوشاله سوم.

تاسي لیکلي وه چي د ښوونځي په ټولو مضمونونو کي مو ډېري ښې نومرې اخیستي وې. پدې خبره زه هم ډېر / ډېره خوشاله سوم او تبریکي در ته وایم.

نور دي نو وخت نه نیسم جوړ / جوړه اوسې.

ستا ملګرى / ملګرې

سور ګل / سپوږمۍ

۲۰۰۹ / ۳ / ۲۳

**تمرین: پورتنی لیک و لولئ او دغسي یو بل لیک و لیکئ چي د دغه لیک څخه فرق و لري !**

# د ملګرو ملتو ورځ FN- dagen

د ملګرو ملتو نښان

تر دوهم نړۍوال جنګ وروسته د نړۍ ٥١ هيوادو په ګډه د ملګرو ملتو اتحاديه جوړه کړه. د دې اتحاديې اساس نامه د ١٩٤٥ عيسوي کال د اوکتوبر پر ٢٤ نېټه و ليکل سوه. اوس دغه ورځ په ټوله نړۍ کې لمانځل کيږي. دغه ورځ په ځينو هيوادو کې رخصتي هم ده.

د ملګرو ملتو په اساسنامه کې داسي راغلي دي چي:

- غړي هيوادونه به بيا جنګ او جګړه نه سره کوي.
- غړي هيوادونه به يو دبله سره اقتصادي مرستې کوي.
- ملګري ملتونه به په نړۍ کې روغتيايي مرستې کوي.
- ملګري ملتونه به د نړۍ ټولو کوچنيانو ته ښوونځي برابروي.



د ملګرو ملتو دفتر

اوس ملګري ملتونه ١٩٢ غړي هيوادونه لري.
د ملګرو ملتو دفتر (د کار ځای) د امريکا د نيويارک په ښار کې دئ.

---

لغاتونه:

اساسنامه هغه ليکنه ده کوم چي د يوه کار د مخته وړلو ټوله چاري پکښې راغلي وي.

تمرين: لاندي پوښتنو ته جوابونه و ليکئ !

۱ ـ د ملګرو ملتو اتحاديه ولي او کله جوړه سوه ؟

___

___

۲ ـ د ملګرو ملتو د اتحاديې د جوړېدو په وخت کي څو هيوادونه سره يو ځای سوه ؟

___

___

۳ ـ ملګري ملتونه اوس څو غړي هيوادونه لري ؟

___

٤ ـ ملګري ملتونه د کوچنيانو د پاره څه کوي ؟

___

٥ ـ ملګري ملتونه به د روغتيا په برخه کي څه کوي ؟

___

٦ ـ د ملګرو ملتو دفتر اوس چيري دئ ؟

___

# نصیحتونه

۱ ــ د بې وزلو او غریبانو سره مرسته کوئ !

۲ ــ په چا پسې بد مه وایاست !

۳ ــ د مور او پلار احترام وکړئ او ژوند یې غنیمت و بولئ !

٤ ــ ښوونکئ تر مور او پلار کم مه بولئ !

٥ ــ که خوی مو ښه وي ، دوستان به مو ډېر وي.

٦ ــ تل رښتیا وایاست او له درواغو څخه ځان و ساتئ !

۷ ــ د نن کار سبا ته مه پرېږدئ !

۸ ــ د بل په زیان مه خوشاله کېږئ !

۹ ــ په دې و پوهېږئ ، څوک چې ستاسي په مخ کي په بل پسې بد وایي نو د بل په مخ کي په تاسي پسې هم بد وایي !

---

لغاتونه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| بې وزلي | خوار ، غریب ، مسکین | مرسته | کومک |
| احترام | عزت ، قدر | غنیمت | گټه ، څه چې بې مشکله لاس ته راغلي وي |

تمرين: لاندي جملې په سويډني ترجمه کړئ !

۱ ـ د بې وزلو او غريبانو سره مرسته کوئ !

---

۲ ــ په چا پسې بد مه واياست !

---

۳ ــ د مور او پلار احترام وکړئ !

---

٤ ــ ښوونکئ د مور او پلار په شان و بولئ !

---

٥ ــ که خوی مو ښه وي ، دوستان به مو ډېر وي.

---

٦ ــ تل رښتيا واياست او له دروا‌غو څخه ځان و ساتئ !

---

۷ ــ د نن کار سبا ته مه پرېږدئ !

---

۸ ـ د بل په زيان مه خوشاله کېږئ !

---

# Adjektiv صفت

صفت هغه کلمه ده چي په جمله کي پر اسم تاثیر کوي لکه : جګ سړی.، توره غوا ، زوړ کتاب، کوچنی هلک، ښه مېوه او نور .

دلته جګ، توره، زوړ، کوچنی، او ښه صفتونه دي چي د سړي ، غوا ، کتاب ، هلک او مېوه پر اسمونو باندي را غلي دي.

تمرین: په لاندي جملو کي صفتونه پیدا کئ !

احمد ښه زده کوونکئ دئ.

زموږ کور په هغه سره تعمیر کي دئ.

احمد چي راغئ د ځانه سره یې یو ښکلئ بایسکل راووست .

پدې لوی ښار کي د برېښنا جګي پایې سته .

زده کوونکي دي په خپله پنځه جملې و لیکي چي داسي صفتونه پکښي را غلي وي چي دلته نه وي را غلي !

۱- ________________________________________

۲- ________________________________________

۳- ________________________________________

٤- ________________________________________

٥- ________________________________________

تمرین: لاندي سویډني جملې په پښتو ترجمه کړئ ، که په جمله کي صفت را غلئ وي تر هغه لاندي خط کش کړئ !

1- Sadå har en ny bil.

______________________________

2- De har tre vackra klänningar.

______________________________

3- Vår lärare har köpt ett hus.

______________________________

4- Vill du köpa en bilig bil?

______________________________

5- Moosa skriver ett brev till sin bror.

______________________________

6- Hamid arbetar på en fabrik.

______________________________

7- Du springer nu.

______________________________

# ښوونځی

ډلـي ډلـي مــاشـــومـــان　　د ښـوونـځي پـــه لـــور روان
هـــر يـــو خپل خپل کتابـونه　　دي نيولي څنګ کـښي ځوان
چـــي سهـــار له خوبـه پاځي　　دا ښـــايـستـه ښـــايسته ګــلان
وايـــي مـــوري هـــله ژر کړه　　راکـــړه چـــای چـــي شم روان
هسي نـــه چي شـــي ناوخته　　شـــي خفـــه بـــــه استـــادان
مـــور يې ډيـره شي خوشـاله　　د مـــاشـــوم زوی پـــه بيـــان
خدای دي لوی کړه راته زويه　　شـــه خـــفـــه دي دښمـــــنان
يـــــا بـــهـر لـــــه کوره وزي　　کـــــړي را جمع خپل دوستان
ځـــــي پـــــه جـــمع سره ټول　　لـــــکه ستـــــوري د اسمـــان
شـــي پـــه کـار به مو سبا ته　　دا واړه واړه تـــــوتيـــــــان
پاس اسمان ته به تکل کـــړي　　دوی بـــه وي ســـاينس دانان

---

زده کوونکي دي د شعر مفهوم په خپله ژبه وليکي:

لغاتونه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| ښوونځی | مکتب | ماشومان | کوچنيان |
| لور | خوا | بهر | د باندي |
| پاځي | ولاړيږي ، را کښيني | استادان | ښوونکي |
| را جمع | را ټول | واړه | کوچنيان |
| تکل | تلل | ساينس دانان | ساينس پوهان |
| پاس | پورته ، لوړ | | |

تمرین: پورتنی شعر په خپله ژبه و لیکئ !

۱ - ________________________________________

________________________________________

________________________________________

________________________________________

________________________________________

________________________________________

________________________________________

۲ـلاندي لغاتونه په جملو کي استعمال کئ !

ماشومان________________________________

ښوونځی________________________________

پاخي________________________________

پاس________________________________

واړه________________________________

# اوبــه

زموږ په شا و خوا کي اوبه ډيري زياتي دي. د مځکي د مخ د څلورو برخو څخه دري برخي اوبو نيولي دي.

اوبه د انسانانو ، حيواناتو او نباتاتو د ژوند د پاره ډېر اهميت لري. که اوبه نه وي نو انسانان، حيوانان او نباتات ژوندي نه سي پاته کېدای. يو انسان په منځني ډول د ورځي اته ګلاسه اوبو ته اړتيا لري. په دنيا کي اوبه دري ډوله پيدا کيږي لکه:

۱ ـ د مځکي پر مخ اوبه لکه د دريابو ، رودو ، ډنډو (بندو ) او ويالو اوبه.

۲ ـ تر مځکي لاندي اوبه لکه د چينو ، کاريزو او څاهانو اوبه.

۳ ـ د مځکي پر شا و خوا د بخار په توګه اوبه.

---

ښوونکئ دي د کاريز په هکله زده کوونکو ته ښودننه وکړي

لغاتونه:

| | |
|---|---|
| اهميت | ارزش |
| نباتات | شنه شيان لکه: کاهو ، ګندنه ، تره تېزک ، ګشنيز او نور |

د ځینو لغاتو شرحه:

چینه: کله چي بارانونه و سي او د مځکي په لوړو ځایو کي اوبه ډیري سي نو په یوه کښته ځای کي په خپله د مځکي پر مخ د فوارې په شان را غورځي.

کاریز: په کومو ځایو کي چي د مځکي پر مخ اوبه نه وي نو خلک کاریزونه کاږي. په دغه شکل کي یو کاریز در ښودل سوئ دئ.




تمرین: لاندي جملې و لولئ هره جمله چي صحیحه وي تر څنګ یې (ص) او که غلطه وي تر څنګ یې (غ) ور ته و لیکئ!

۱ـ د مځکي د مخ درې پر څلور برخي اوبه دي ____________

۲ـ اوبه انسانانو ته ګټه رسوي ____________

۳ـ که اوبه نه وي نباتات ژوندي پاته کیږي ____________

۴ـ یو انسان د ورځي اته ګلاسه اوبو ته اړتیا لري ____________

۵ـ د مځکي پر مخ باندي اوبه لکه د ویالو او دریابو اوبه ____________

۶ـ تر مځکي لاندي اوبه لکه د باران اوبه ____________

۷ـ د باران اوبه د دریابو د اوبو د بخار څخه پیدا کیږي ____________

۸ـ اوبه د تودوخي (ګرمی) په واسطه یخی کیږي ____________

# د چښلو اوبه

ټولي اوبه چي په دنیا کي پیدا کیږي د چښلو د پاره ښې نه دي. د مخه تر دې چي اوبه چښو باید و پوهیږو چي د چښلو وړ دي که نه.

ناپاکي او چټلي اوبه بدن ته د ګټي پر ځای تاوان رسوي. په ناپاکو اوبو کي ډول ډول مکروبونه ځای نیسي او ډول ډول ناروغۍ منځ ته راولي.

د چښلو د پاره د نل اوبه ښې دي ، په کوم ځای کي چي نل نه وي نو دي سړی د هغه څا اوبه و چښي چي سر یې پټ وي او د چټلو اوبو د ځای څخه لیري وي ځکه چي څا ته چټلي اوبه د مځکي د سوریو د لاري ور ننوزي او د څا اوبه هم چټلوي.

---

ښوونکۍ دي د ښاهانو او کاربزو د کیندلو او د چینو د راپیدا کېدو او د هغو د اوبو د چټلېدو په هکله زده کوونکو ته معلومات ور کړي

تمرین: لاندي پوښتنو ته جوابونه و لیکئ !

۱ـ ایا ټولي اوبه د چښلو وړ دي ؟________________________________

________________________________________________________

________________________________________________________

لاندي څو جملې در کول سوي دي ، که جمله صحیح وي تر څنګ يې (ص ) او که غلطه وي تر څنګ يې (غ ) و لیکئ !

۱ـ د دریاب اوبه د چښلو وړ نه دي ____________

۲ـ د هر ځا اوبه د چښلو وړ دي ____________

۳ـ که نا پاکي اوبه و چښو ، په ډول ډول ناروغیو اخته کیږو ____________

٤ـ د چښلو د پاره تر هر څه ښې اوبه د ځا اوب دي ____________

۵ـ د چښلو د پاره د هغه ځا اوبه ښې دي چي یوازي يې سر پټ وي ________

٦ـ د مځکي د سر چټلي اوبه د ځا او نه چټلي کوي ____________

۷ـ د انسان په وینه کي هم اوبه سته ____________

# فعـــل Verb

فعل هغه کلمه ده چي د يوه کار کول ښکاره کوي لکه :
ځم، خورو ، ليکې، راوړئ، ګوري، خاندي او داسي نور.

تمرين: پدې لاندي جملو کي فعلونه پيدا کئ او يو خط تر لاندي و ليکئ !

ميرويس د ښوونځي څخه راځي . پر لاري د احمد ورور ور سره ملګرئ کيږي . بيا نو د کتاب خرڅوونکي د دکان څخه کتابونه را اخلي .کله چي يې کتابونه راوړه بيا د ښوونکي سره خبري کوي.

د فعل يا کارکولو څخه وخت هم ښکاره کيږي لکه

١ ـ حال (اوس)

٢ ـ ماضي ( تېره زمانه )

٣ ـ استقبال ( راتلونکې ) زمانه.

اوس به دلته هره هره زمانه ولولو :

## ١ ـ حـــال Presens:

هغه زمانه ( وخت ) دئ چي يو کار اوس کيږي لکه:

- زه ښوونځي ته ځم.

- دوی خط لیکي.
- ملالۍ ډوډۍ خورئ.
- رڼا خپل کالي وړئ.

## ۲ـ ماضي (تېره سوئ وخت) :

دا هغه زمانه ده چي یو کار په تېر وخت کي سوئ وي او دا زمانه پر دري ډوله ده لکه مطلقه ماضي ، قریبه ماضي او بعیده ماضي:

### الف ـ مطلقه ماضي

- احمد ښوونځي ته ولاړ .
- تا ډوډۍ وخوړه.
- زه کور ته راغلم.
- موږ ښوونځي ته ولاړو .
- موږ د ستوکهولم ځخه راغلو .
- ملالۍ خپل کالي را وړل.

### ب ـ قریبه ماضي

پدي زمانه کي یو کار حال (اوس ) ته نژدي په تېره زمانه کي سوئ وي لکه :

- تا ډوډۍ خوړلي ده .
- موږ کتاب راوړئ دئ .
- تاسي کور ته تللي یاست .

- زمرک د ښوونځي ته تللئ دئ.
- تاسي د ښوونځي څخه را غلي یاست.

## ج ـ بعیده ماضي یا لیري تېره زمانه

چي یو کار په لیري تېره زمانه کي سوئ وي لکه :

- مورِ خپل کار کړئ وو .
- ته کابل ته تللئ وې .
- دوی راغلي وه.
- دې د خپل پلار سره خبري کړې وې .
- نبي افریکا ته تللئ وو .
- ما ته چا ویلي وه ؟

## ۳ ـ راتلونکې زمانه

چي یو کار په راتلونکې زمانه کي کیږي لکه :

- احمد به راسي.
- مورِ به وخاندو.
- دوی به خط ولیکي .
- شینګل به خپل لوست و لولي.
- هغوی به ستاسي سره و ګوري.

تمرین: د لاندي جملو خالي ځایونه په مناسبه کلمه ډک کئ !

| |
|---|
| ۱ ـ ماضي هغه زمانه یا وخت دئ چي یو کار په__________ وخت کي سوئ وي.<br>اوس<br>راتلونکي<br>تېر سوي |
| ۲ ـ ماضي__________ ډوله ده.<br>دوه<br>درې<br>پنځه |
| ۳ ـ زه کور ته ولاړم.__________ ماضي ده.<br>قریبه<br>مطلقه<br>بعیده |
| ٤ ـ موږ ښوونځي ته تللي وو. __________ ماضي ده.<br>قریبه<br>مطلقه<br>بعیده |
| ٥ ـ هغه کور ته تللې ده. __________ماضي ده.<br>مطلقه<br>قریبه<br>بعیده |
| ٦ ـ زه خط لیکم. __________ زمانه ده.<br>مطلقه<br>قریبه<br>حال |

# سودا ګـــر

یو سوداګر د سودا ګرۍ د پاره یوه بل ښار ته ولاړ. هلته يې د پنځوسو (٥٠) دانو ټلویزیونونو د بیې پوښتنه و کړه. خرڅوونکي ور ته و ویل: د ٥٠ تلويزيونو بيه دوه سوه زره (دوه لکه) افغانۍ ده.

سوداګر خپل ښار ته د مالونو د وړلو بیه هم و پوښتله. د وړلو بیه يې اویا زره (٧٠٠٠٠) افغانۍ کېده.

اوس نو سوداګر د ځان سره حساب و کړ: د دوه لکه افغانيو سره چي ٧٠٠٠٠ افغانۍ جمع کړم نو دا به سي دوه لکه او اویا زره (٢٧٠٠٠٠) افغانۍ. او که ٢٧٠٠٠٠ پر پنځوس ٥٠ تقسیم کړم، نو د هر ټلویزیون بیه به پنځه زره او څلور سوه (٥٤٠٠) افغانۍ سي. هلته هر تلويزيو. په اوه زره ٧٠٠٠ افغانۍ خرڅيږي.

اوس د ٧٠٠٠ څخه ٥٤٠٠ تفرق کوي يو زر او شپږ سوه ١٦٠٠ افغانۍ کیږي چه دغه د ده ګټه ده.

د ټولي ګټي د معلوملو د پاره يې ١٦٠٠ په پنځوس (٥٠) کي ضرب کړه. د ضرب نتيجه يې اتيا زره (٨٠٠٠٠) افغانۍ سوه.

---

لغاتونه:

سوداګر تجار، هغه څوک چي د ګټي د پاره مالونه را نیسي (اخلي).

**تمرین: لاندي پوښتني لومړی په رقمونو او اعدادو حل کئ او بیا یې په تورو جواب و لیکئ !**

یادونه: ۱(یو ) ـ ۲(دوه )ـ ۳(درې ) ـ ٤( څلور )ـ ٥(پنځه )ـ ٦(شپږ ) ـ ۷ )اووه )ـ ۸(اته ) ـ ۹(نهه )ـ ۰(صفر )
هر یو د رقم په نامه یادیږي او که تر یوه زیات وي د رقمونو په نامه یادیږي.
۱۲ـ ۲۳٤ ـ ٤ـ ٦۷۸٤٥ د عددو په نامه یادیږي. ۳٤ ، ٥٤٦۳ ، ٤۳٥ د اعدادو په نامه یادیږي.

۱ـ اته جمع پنځه څو کیږي ؟

---

---

۲ـ درویشت منفي دوولس څو کیږي ؟

---

---

۳ـ اته ضرب په شپږ کې څو کیږي ؟

---

---

٤ـ اته‌لس تقسیم پر شپږ څو کیږي ؟

---

---

٥ـ و وایاست چې: ۳۲ عدد دئ که رقم ؟ ______________________________

٦ـ و وا یاست چې ٦٥۰۹ د څو رقمو څخه جوړ سوئ دئ ؟ ______________________________